سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۲/۱۰

# احتیاط !

خدای د انسان په خیر عمل نه کوی    ملا صاحبه ! لږ احتیاط کوه
د خدای«ج» ویاند له ځانه مه جوړوه    عقل سره هم څه مسلات کوه

===

بی انصافی د خدای نظام کی نشته    هغه زره زره حساب کوی
هغه نه دروغ وایی نه دروغ اوری    پریکړه د حق په خپل کتاب کوی

===

ګناه او جرم سره یو نه دی    هر ګناه کار جنایت کارنه دی
ملا صاحبه! ځان خبر کړه په دی    خدای د چا زوی اود چا پلار نه دی

===

له تانه هم لکه د نورو په شان    د ښه او بد عمل پوښتنه کوی
نو ځان تیار کړه امتحان ته ملا!    دوزخ نه هر مُجرم لیدنه کوی

===

له مانه ستا شیطان هوښیاردی ملا　　له مانـه ډېـر تا سـره یار دی ملا

ځان و ســاته زمـا پـروا مـکـوه　　زما شیطان ما نـه بیزاردی مــلا

فبروری/۷/۲۰۲۰

ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

احـتـیــاط

S_klewal_ehtiyaat.pdf